# کورونا: ایا موږ به د نوې نړۍ دزیږیدو شاهدان اوسو؟

ډاکتر وضاح خنفر، د منتدی الشرق/ ختیځ فورم مشر
ژباړه : حمید محمدشاه

*ډاکتر وضاح خنفر د (کورونا په هره برخه کې واقعیت بدلوي: ایا موږ به د نوې نړۍ دزیږیدو شاهدان اوسو؟ ) تر عنوان لاندې وینا درلوده، په لسګونو پوهانو پکې ونډه درلوده. د ډاکتر وضاح خنفر په وینا کې د کورونا په اړه ډیرې نوې خبرې دلته لوستلی شئ.*

همدا شیبه نړۍ له سخت او اغیزناک وضعیت سره مخ ده، دا له تاریخي اړخه د بنسټیز بدلون پیلامه ده. د نوومخبیلګو لپاره بنسټ برابروي او هغه ، چې وار له مخه په ټولنپوهنه، اقتصاد او سیاست کې شته لا پسې پیاوړې کوي.

د وخت په تیریدو به د کورونا ویروس روغتیایي اغېز له منځه ولاړ شي. د پخوانیو ناروغیو، طاعون او جګړو په څېر به بشریت له دې ګواښ هم خلاص شي، خو هغه اغېز به، چې ددې ویروس پر ضد له نړیوالو کړنو/ اجرااتو څخه رامنځته کیږي، تر ډېره پاتې وي، د انسانانو په ژوند کې به یې اغیز تر ډېره څرګند وي.

نن ورځ ، چې نړۍ د اړیکو له اړخه په کوم وضعیت کې ده پخوا یې ساری نه دی لیدل شوی. هېوادونه، انسانان یو پر بل ډېره تکیه دي، نړیوال اقتصاد، نړیواله ټیکنالوژي، چې ټوله نړۍ یې سره نښلولې ده داسې یو وضعیت رامنځته کړی، چې بشریت یې پخوا بېلګه نه وه لیدلې.

نړیوالتوب، له کومې ورځې، چې پخوانی انسان له زرګونو کلونو او له کرنیز انقلاب راوروسته بشري ټولنه رامنځته کړې ده نړۍ په دې حجم او ځواک داسې بېساری پدیده نه ده لیدلې،

خو کورونا نن د نړیوالتوب په زړه کې راڅرګند شوی دی او بنسټونه یې زیبښي. تر پرونه بشریت داسې انګیرله، چې دا به ډېره سخته او ګرانه وي چې دا بنسټونه دې ولړزیږي.

کورونا نړۍ ته د عاجزۍ/ خاکسارۍ درس ورکوي!

دوه کاله وړاندې د(ENLIGHTNMET NOW) په نوم کتاب خپور شو، بیل ګیټس یې خلکو ته دلوستو سپارښتنه وکړه. لیکوال یې Steven Pinker ډېر خوشاله او خوشباوره و. نوموړي ویل: بشریت نن ورځ په ډېر ښه وضعیت کې دی، لامل یې دادی، چې موږ توانیدلي یو، چې پر ډېرو ناروغیو او لوږو لاسبري شوو، انسان د پوهې، اړیکو، سوکالۍ، پرمختللي انساني وضعیت هغې درجې ته رسیدلې دی، چې په تاریخ کې یې ساری نه دی لیدل شوی، کېدای شي دا به په ډېرو اړخو کې سمه خبره وي، خو په مطلقه توګه سمه نه ده!

کورونا ویروس د نړۍ نا اټکله ناتواني، چې له دې وباء سره پر جګړه اخته ده رابرسیره کړه. بشریت ګومان کاوه، چې پردې چاره برلاسی شوی، ځکه موږ ټولو څو لسیزې پخوا دا نمانځلې وه، چې انسان کامیاب شو، کولای شي، چې ناروغیو، وباء او طاعون ته ماتې ورکړي او برید ورته وټاکي او له قاموس یې حذف کړي، خو د نړیوالې وباء فکر، چې نن ورځ بشریت ورسره لاس وګریوان دی، د بیل ګیټس  په څېر ځینو یې یوازې په اړه وړاندوینه کړې وه.

یو خوشباوره بهیر شته، چې پردې د باور تر کچې ویاړي، چې نن د علم او ټیکنالوژۍ نړۍ ده، خو څرګنده شوه، چې بیولوژیک ببرته راوګرځید، چې زموږ کمزوري او عاجزي ثابته کړي او انسان، چې الله پاک وایي کمزوری پیدا شوی دی، نن ورځ د هغه ویروس پر وړاندې عاجز ولاړ دی، چې په سترګو نه لیدل کیږي.

موږ د بشري کائناتو په توګه ژوند کوو، نه د خدايانو. پردې نه پوهيږو، چې تقدير به زموږ پر حال څه کوي او زموږ د پايښت توازن به څنګه بدلوي، همدا د بشري عاجزۍ لپاره ستر درس دی، چې تر پرونه يې ګومان کاوه، چې اوس خو له ډېرو هغو ناخوالو خلاص دی، چې پخواني ورسره لاس وګريوان وو.

دلته اړينه ده، چې دې وضعيت ته يو څه تم شو. ددې لپاره نه، چې خپل ذات وځوروو، بلکې ددې لپاره، چې هره ستره پېښه دانسان لپاره ستر عبرت وي، حجم او ژورتيا يې د پېښې او ازماېښت د ارزښت په کچه وي.

د نن ورځې واقعيت ډېر مهم او اړين درس دی، که چيرې يې په اړه ژور فکر ونه کړو، نو موږ به له تمدني اړخه سرګردانه شو، چې هېڅ عاقل انسان ته نه ښايي، چې په دې ګرداب کې راګير شي. دلته بايد دا آيت شريف را په زړه کړو، چې تل موږ ته ځان را په يادوي، موږ يې تلاوت کوو، خو د پېښېدو پر بڼه يې نه پوهيږو، کله چې زموږ د سترګو پر وړاندې واقع شي بيا پرې پوهيږو لکه د نن ورځې پېښه : (حَتَّى إِذَا أَخَذَتِ الْأَرْضُ زُخْرُفَهَا وَازَّيَّنَتْ وَظَنَّ أَهْلُهَا أَنَّهُمْ قَادِرُونَ عَلَيْهَا أَتَاهَا أَمْرُنَا لَيْلًا أَوْ نَهَارًا فَجَعَلْنَاهَا حَصِيدًا كَأَن لَّمْ تَغْنَ بِالْأَمْسِ كَذَٰلِكَ نُفَصِّلُ الْآيَاتِ لِقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ) [الزخرف:24]

په تېرو کلونو کې انسان ګومان کاوه، چې پر ځمکه ځواکمن مخلوق دی، په لاس کې يې نيولې ده، يووال هاراري په دې اړه وړاندوينه کړې وه: « نوی انسان ( هوموډيان) يو معبود دی، ځکه هغه ددې وړتيا درلوده، چې د ضعف او کمزورتيا ټول هغه قواعد مات کړي، چې بشريت يې محاصره کړی دی او د پخوا په پرتله اوس دې ته ډېر نږدې دی، چې دايمي شي، خو لږ وخت نه و تېر شوی، چې د غربي پوهانو له خوا رامنځته شوی باور له ( اسطورې) پرته بل څه نه و، د انسان کمزوري يو وجودي حقيقت دی، چې دده په خټه کې اغږل شوې دی.

څه، چې پېښ شوي دي ټول يې بايد يو فرصت وګڼي، چې ګټه ورڅخه پورته کړي ځکه الله عزوجل مطلق شر نه دی پنځولی، له هرې سختې وروسته اساني وي. موږ بايد خپله کمزوري ومنو او پر الله عزوجل تکيه وکړو او خپل ژوند ته د انساني مخلوق په توګه دوام ورکړو.

د هغو نړيوالو افتونو/ وباء شمېر محدود دی، چې انسانيت يې ځپلی دی. عامه وباء هغه ده، چې ګرده نړۍ يا د ځمکې د کرې ډېره برخه ونيسي او ګڼميشتو سيمو ته ورسيږي او د ژوند مختلف اړخونه اغيزمن کړي، دا يوازې روغتيايي اړخ نه وي، بلکې ټولنيز، اقتصادي، ديني او فکري هغه ورسره اغيزمنوي.

دا نړيواله وباء، چې نن ورسره مخ يو بايد د هغو نورو نړيوالو وباګانو په ترڅ کې حساب شي، ځکه نړۍ له ډېر پخوا راهسې له وباء څخه ځوريږي.

انطوني وباء او د نوي حقيقت لټه !

لومړنۍ وباء، چې پخوانيو تاريخپوهانو په خپلو کتابونو کې ثبت کړې ده د 165 ز کال وه، چې په روم، ايټاليا  او ډيری روماني هېوادونو کې رامنځته شوې وه، هغه مهال روميانو پر سپين سمندر، شمالي افريقا، سويلي اروپا، هسپانيه او پر شام واکمني درلوده، په همدې کال دا ستره امپراتوري وباء او طاعون داسې وځپله، چې له پښو يې وغورځوله، چې وروسته بيا پر انطوني وباء مشهوره شوه او تر ډېره وه.

همدې وباء  غربي رومي دولت لومړی کمزوری او بيا ړنګ کړ، ځکه جرماني قبايلو پرې بريدونه وکړل، وباء رومي لښکر کمزوری کړ او په شمال کې يې د جرماني قبايلو د جنګياليو مخه ونه شوه نيولی، له کوم مقاومت پرته يې ورته سيمې پرېښودې، په شپږمه پيړۍ کې ټوله امپراتوري له منځه ولاړه.

ټولو وباګانو او طاعون، چې نړۍ ځپلې ده دا د یو عصر پای او دبل نوي هغه پیل دی. د هر پخواني زوړ څیز پای او د نوي زیږیدل دي، دا یې له وسه پوره نه وه، چې سر راپورته کړي نو اړتیا وه، چې داسې یو څه پېښ شي، چې هر څه ورسره وخوځیږي، چې دې ته لار هواره شي.

وباء/ طاعون یوازې د رومي دولت نظامي بنسټ ونه نړوه، بلکې رومي ادیان یې هم له منځه یوړل، همدا لامل دی، چې د رومي دولت په ډیرى برخو کې مسیحیت سر راپورته کړ. ان، چې امپراتور قسطنطین د څلورمې میلادي پیړۍ 315 -333 په پیل کې مسیحي دین قبول کړ او د همدې دین بنسټونه یې پیاوړي کړل. له دې وروسته مسیحي دین د امپراتور رسمي دین شو.

روماني ادیان، چې د خدایانو پر ډېر شمیر باوري وو، پردې نه وو توانیدلي، چې هغو سترو پوښتنو ته ځوابونه پیدا کړي، چې خلکو له سترې غمیزې وروسته رابرسېره کړې وې، خپل ځوابونه یې په مسیحي دین کې وموندل.

جستنیان طاعون یوازې بشر له منځه نه وړي!

دویم طاعون، چې مسلمانانو ته له تاریخي اړخه ارزښت لري، هغه جستنیان طاعون دی، جستنیان د ختیځ رومي دولت  له مخورو امپراتورانو څخه و، چې هغه مهال ورته ( بیزنطینین) ویل. دا مهم مشر و، چې د بیزنطیني ځواک بنسټونه یې پر پښو ودرول او له پارسي امپراتورۍ سره یې جګړې کړې دي. د نړۍ په بیا جوړونه کې یې رول مهم و. زیات شمېر لاسته راوړنې یې هم درلودې، لکه د جستنیان مشهور قانون، چې اوس نړیوال کلتور دی او په ډیرى اروپایي قوانینو کې لوستل کیږي. رومي دولت، چې د جرماني قبائلو په لاس ړنګ شو، جستنیان هڅه وکړه، چې ختیز او لویدیز روماني دولت سره یو ځای کړي، خو تقدیر بل څه غوښتل.

له 541 – 543 زېږورې په بیزنطي دولت کې وژونکې وباء خپره شوه، له مصر پیل شوه او سر یې قسطنطینې، انادول او د شام هېوادونو ته ورسید. او ساساني دولت یې هم را لاندې کړ، وروسته دا وباء د جستنیان پر وباء مشهوره شوه.

دا طاعون/ وباء د محمد صلی الله علیه وسلم له پیداېښت دېرش کاله پخوا راخرګنده شوه او بیزنطي او پارسي امپراتورۍ یې ډېرې کمزورې کړې، یوازې د قسطنطنیې نیمایي استوګنو خپل ژوند له لاسه ورکړ، له مصر سره سوداګري بنده شوه ځکه دوی داسې انګیرله، چې دا وباء له مصره ورغلې ده.

معاصر څېړونکي وایي، چې وباء په مصر کې نه ده راپیدا شوې بلکې د سوداګریزو کښتیو په وسیله له منځنۍ اسیا د هغو موږکانو نه ور انتقال شوې وه، چې انسان ته د وربږې له لارې ور رسیږي. وروسته بیا دا وباء د اروپا مختلفو بندرونو ته ورسیده، ډېر انسانان یې ووژل، هغه مهال د انسانانو شمېر دوه سوه ملیونو ته رسیده، چې ډېرو یې خپل ژوند له لاسه ورکړ، پوځ زیانمن شو، د دولت عوائد بیخي کم شول، خپل ځان یې نه شو ساتلی، جستنیان اړ شو، چې مالیه پورته کړي، له دې هر څه سره امپراتوري ژوندۍ وه، له پارس هغې سره یې جګړې هم وکړې، خو همدا وباء یو له هغو لاملونو وه، چې بیزنطي او پارسي دولتونه یې دومره کمزوري کړل، چې شپږ لسیزې وروسته دواړه امپراتورۍ د مسلمانانو په لاسونو له منځه ولاړې.

وباء ناڅاپي نه ورکیږي، د څو کلونو لپاره غلې شي وروسته بیا سر راپورته کړي او دومره قوي شي، چې دانساناو په مرګ تمامه شي. د جستنیان وباء په تداوم په ٦٣٠ ز کې د فلسطین په عمواس سیمه کې د عمواس په نوم بله وباء راخرګنده شوه، لامل یې همدا بکتیریا وه، یو ځل بیا خپره شوه او ډېر انسانان یې ووژل، ویل کیږي، چې دا تر ټولو سخته وباء وه د نړۍ هرې برخې ته ورسیده، چې د نړۍ په تاریخ کې تر ټولو زیاته مشهوره شوه، له ۸۰۰ ز کال راوروسته د ( تور مرګ ) په نوم مشهوره شوې ده.

## تور مرګ  او د اروپايي عقلانیت زیږیدل

په ۱۳۴۸ ز کې انسانیت له سترې غمیزې سره مخ شو، چې  د تور مرګ، Black Death په نوم یادیږي. په منځنۍ اسیا او چین کې یې ډېر خلک ووژل، د چین  ٪۴۰ استوګن یې ووژل، هغه مهال د وباء د قربانیانو شمېر ٪۹۰ ته رسیدلی و، څوک به، چې پر وباء اخته شو یوه یا دوه ورځې به ژوندی و، له منځنۍ اسیا څخه  اروپا ته په پنځلس کلونو کې رسیدلې وه هغه مهال لارې اوږدې او سوداګري کمه وه.

د اتمې میلادي پیړۍ په نیمايي کې د مسلمانو تاریخپوهانو په ادبیاتو کې دا وباء د ( عامې وباء) په نوم مشهوره ده، دهغو مسلمانو تاریخپوهانو، چې په شام او مصر کې یې ژوند کاوه. د همدې وباء په اړه ډارووونکي خبرونه شته، ابن الوردي، چې په مصر کې یې ژوند کاوه د هغې ناروغۍ په اړه کتاب لیکلی دی، چې دی پرې اخته و، چې وروسته بیا له همدې ناروغۍ ومړ. نوموړی لیکي: یوازې په قاهره کې د ورځې له ۲۰ زره زیات انسانان مړه شوي وو، څوک نه وو چې مړي ښخ کړي، د مړو ښخول سخت کار و، ډېری به له دې ډاره تښتیدل، چې وباء یې ونه نیسي.

هغه مهال د ګردې نړۍ شمېر ۴۷۵ ملیونه و، چې همدې وباء په ۱۳۴۸ ز کې  ۱۰۰ ملیونه انسانان، چې د نړۍ د ټول نفوس دریمه برخه یې جوړوله وژلي وو، همدې وباء په  دریو میاشتو کې  دنړۍ ٪۲۰ انسانانو ژوند اخستی و. د څېړونکو له انده وباء همداسې خپریده، چې د اوږدو کلونو لپاره یې خلک وژل، چې شمېر یې ۲۰۰ ملیونو ته ورسیده.

لکه څرنګه، چې جستنیان وباء بیزنطي دولت له پښو وغورځوه او اسلامي هغه راوزیږیده، همدا راز سترې یا تورې وباء په اروپا کې منځنۍ پیړۍ پای ته ورسوله  او دپرمختګ د عصر پیلامه شوه. ددې ډېر لاملونه دي، کله، چې دا وباء رامنځته شوه ډېری قربانیان یې بیوزله او غریب انسانان وو.

په څوارلسمه پیړۍ کې په اروپا کې فیوډالیزم خپل اوج ته رسیدلی و او اقتصادي سیستم پر همدې فیوډالیزم ولاړ و. پانګوالو پراخې ځمکې را لاندې کړې وې او بیوزلو پکې د مریانو په څېر کار کاوه، له وباء وروسته پانګوالو دومره څوک نه شو پیدا کولای، چې د دوی په ځمکو کې کار وکړي ځکه ډیری بزګرانو خپل ژوند له لاسه ورکړی و، شمېر یې ډېر کم و، کاریګرو به ډېر مزد او ډېره ازادي غوښته وروسته بیا په ټوله اروپا کې د مریتوب او فیوډالیزم د ختمولو خبره راپورته شوه.

پانګوالو هڅه وکړه، چې بېرته واک او کنترول تر لاسه کړي، خو بیوزله بزګرانو بیا وخت ورنه کړ، ځکه تاریخپوهان وایي: همدې تورې وباء فیوډالیزم له منځه یووړ او اغیز یې تر دین ورسیده. کلیسا، چې سیاست او دین په لاس کې نیولي وو واک او صلاحیت یې کاواکه شو، د تورې وباء پر وړاندې ناتوانه او عاجزه ولاړه وه.

څوارلسمه پیړۍ په نړیواله کچه له طلایي پیړیو څخه شمېرل کیږي، اسلامي نړۍ طلایي پېر او عصر کې ژوند کاوه، نړۍ پردې باور وه، چې مسلمانان په علم، رورغتیا، فلک ، هندسه ، انساني تمدن او د ژوند په مختلفو برخو کې ډېر پرمختللي دي. اروپایانو په اندلس کې هغه څه لیدل، چې دوی په خپلو پوهنتونو، کلیساوو او فرهنګیانو کې نه لیدل. اندلس هغه مهال د تمدن او پرمختګ اوج ته رسیدلی و او اروپا خپلې سختې او تیارې شپې تیرولې، ټول پوهیږو، چې د اروپا نخبه ګانو او مذهبي چارواکو به د طب په برخه کې له مسلمانو ډاکترانو مرسته غوښته، هغه مهال په اروپا کې طب کوډې او جادو و.

سترې وباوې د دین او ژوند په اړه بنسټیزې پوښتنې راپورته کوي. انسان باید څه وکړي، چې له دې پړاوه تېر شي.

کلیسا به ویل وباء د الله پاک له لوري یو عذاب دی، چې د خلکو د ګناهونو له کبله پر دوی نازله شوې ده، خو په دې کې پاتې راغله، چې ددې عذاب د لرې کولو لپاره حلار وړاندیز

کړي. دا مهال نو خلکو نورو لارو چارو ته مخه کړه او هڅه یې کوله، چې د ستونزې حقیقت معلوم کړي، چې وروسته بیا خبره د اروپایي عقلانیت تر بریده ورسیده، چې پیل یې له اندلسه وشو او په شپاړسمه او اوولسمه پیړۍ کې ټوله اروپا د پرمختګ او علم له کاروان سره یو ځای شوه.

تاریخپوهان وایي: همدا ستره وباء د اروپایي نهضت او پرمختګ پیلامه شوه، فیوډالیزم له منځه ولاړ، د اروپایي عقلانیت پړاو پیل شو، چې وروسته بیا د نهضت پړاو ته ورسید، پر عام ژوند په ځانګړې توګه په سیاست او علم د کلیسا اغیز او واک محدود شو.

د تورې وباء له راڅرګندیدو راهسې او له دې وړاندې د انسانانو دومره مړینه نه وه ثبت شوې لکه په توره وباء کې، چې ثبت شوې ده. بشریت دوه پیړۍ انتظار وویست، چې ددې وباء د قربانیانو ځای ډک کړي.

## د بري مزه او د والګي ډار!

څلورمه وباء هسپانوي والګی دی، چې د۱۹۱۸- ۱۹۲۰ ز کلونو ترمنځ ، له لومړۍ نړیوالې جګړې راوروسته د HINI ویروس له کبله رامنځته شوې ده، پر هسپانوي ددې لپاره مشهوره نه ده، چې په هسپانیه کې رامنځته شوې ده، بلکې هغو کسانو، چې په دې اړه خبرې او معلومات وړاندې کول هغوي هسپانویان وو.

هغه مهال په هسپانیه کې ورځپاڼو یو څه ازادي درلوده او نوره نړۍ د لومړۍ نړیوالې جګړې له کبله سرګردانه وه. د مرګ او مړینې خبرونه یې دومره نه خارل ځکه تازه دا جګړه پای ته رسیدلې وه او د وباء د خپریدو لامل هغه سرتیري وو، چې د اروپا په مختلفو برخو کې یې جګړې کړې وې او وروسته بیا خپلو کورونو ته راستانه شوي وو. دوی د بري له خبرونو سره یوازې دا وژونکی ویروس هم خپلو سیمو ته ولیږدوه، چې د خلکو ترمنځ یې ډار خپور کړ.

هغه مهال ډېرو مړو او سختې بیوزلۍ د والګي کچه لوړه کړې وه، نږدې ۵۰۰ ملیونه انسانان پر وباء اخته شوي وو، د نړۍ په مختلفو برخو کې له ۷۰۰ – ۱۰۰ ملیونه انسانانو خپل ژوند له لاسه ورکړی و، ددې وباء اغیز له تورې هغې له ۲۰-۳۰٪ کم و ځکه د نړۍ نفوس یو ملیار او ۹۰۰ ملیونه اټکل شوی و.

همدا ویروس د موسمي والګي په بڼه د یوه موجود په توګه پاتې شو، چې په ۲۰۰۹ ز کې د خنزیرانو د والګي په بڼه بیا را ژوندی شو، دا وباوې نه مري، بلکې د اوږده وخت په تیریدو ځینې مهال کلونو ته رسیږي بېرته را ژوندۍ کیږي، خو اوس انسانیت هم ډېر پرمختګ کړی دی، ویروس ضد درمل او واکسین یې تولید کړی، چې دخپل بدن مقاومت پرې پیاوړی کړي، انسانان اوس کولای شي، چې د واکسین او یا طبیعي مقاومت له لارې تر هغې له ویروس سره مقابله کولای شي، چې ویروس بیا راڅرګند شي او نوې بڼه یې غوره کړې وي.

**پرمختللي ویروسونه پرمختللې نړۍ ګواښي!**

موږ اوسمهال پرمختللې نړۍ او ژوند لرو. کورونا یا کوویډ ۱۹ د ویروس لومړنی نسل نه دی دا د همدې کورنۍ ( کورونایي ویروس) شپږم نسل دی، د هغو پخوانیو وباوو په نسبت په دې کې د انسان د مړینې کچه ډېره ټیټه ده، ځکه د انسان د روغتیا او معافیت واک له پخوا څخه څو ځلې زیات شوی دی. لکه پاکوالی، د درملو پرمختګ، د خوړو او مقاومت زیاتوالی، ډېری سترې وباوې وروسته له هغې رامنځته شوې دي، چې انسان لوږې او خوارځواکۍ بڼه ځپلی او کمزوری کړی دی.

نن ورځ په نړۍ کې روغتیایي وضعیت له پخوا ډېر ښه دی، خو ویروسونه هم پرمختللي شوي دي او کولای شي، چې پر نوې بڼه ځانونه راڅرګند کړي.

## دا واقعیت څه مانا؟ د راتلونکي لپاره احتمالي سیناریو؟

مختلفې ځېړنې وړاندوینه کوي، چې سمدلاسه داسې حللار نشته، چې د ویروس د خپریدو مخه ونیسي، اوس ګرده نړۍ په ټپه ولاړه ده، حکومتونه به هم ډېر ژر په ټپه ودریږي ځکه دا ناروغي ډېره ژر انتقالیږي ځکه خو نړۍ ته په کار ده، چې خپلې دروازې وتړي، ټوله نړۍ به ډېر ژر او په یوه وخت کې د جمود پړاو ته ننوځي. پخوا داسې بېلګې ډېرې کمې لیدل شوي دي.

په مختلفو تاریخي پړاوونو کې داسې نه دي شوي، چې مسجدونه دې وتړل شي لکه نن ورځ، چې په مختلفو هېوادونو کې دا کار وشو. دا اواز، چې ( په کور کې لمونځ وکړئ) دومره چا نه و اوریدلی، یوازې مو د سیرت په کتابونو کې لوستي و، چې محمد صلی الله علیه وسلم د خپلو پلویانو داسانۍ لپاره یوازې دسخت باران پر مهال اجازه ورکوله، چې په کور کې لمونځ وشي، دیوې اونۍ په ترځ کې  د نړۍ ډیری مسجدونه وتړل شول.

## تر نامعلومې خبرتیا پورې فردي ازادي وځنډیده:

نن، چې څه ګورو پخوا یې چا اټکل هم نه کاوه، چې یوه ورځ به داسې راځي، مسجدونه، کلیساوې، عبادتځایونه به تړل شوي وي، خلک به په خپلو کورونو کې ناست وي، سوداګریز مرکزونه، سرحدونه او هوایي ډګرونه به بند وي، دا د انسانانو لپاره نا اشنا خبره ده، ځکه د سفر او ګرځیدا ازادي دمعاصر انسان  له سترو ازادیو څخه ګڼل کیږي، چې هر وخت یې زړه وشي دا کار کولای شي. دا د انسان له مهمو حقوق څخه شمېرل کیږي. تردې، چې انسان داسې انګیرله، چې هر څه دده په کنترول او لاس کې دي او دا یې له وسه پوره ده، چې نړدې هوایي ډګر ته ولاړ شي او د خپلې خوښې ځای ته وخوځیږي، ویروس راپیدا شو او هېڅا ته اجازه نه ورکوي، چې له کوره ووځي ان تردې، چې په خپل کور کې له نورو سره له ډیرې ناستې پاستې ډډه وکړي. دا هر څه نوي دي، پخوا چا پیژندل هم نه او نه یې چا اټکل

کړی ، موږ نه پوهیږو، چې دا به کله ختمیږي، دا بیا له ګواښه ډکه خبره ده، چې ویروس به دوو یا دریو اونیو کې له منځه ولاړ شي، هر څوک، چې دا خبره کوي هغه تیروتی دی.

ځیني څیړنې ډیرې خوشباوره ښکاري او وایی، چې د روانې مې میاشت تر پایه به ویروس له منځه ولاړ شي، خو موږ له دې زیات وخت ته اړتیا لرو، ځینې نور بیا وایي موږ له شپاړسو تر اتلسو میاشتو پورې وخت ته اړتیا لرو، چې دا ویروس کنترول کړو.

نن، چې له څه سره لاس وګریوان یو ډیر وخت ته اړتیا لري، کیدای شي وضعیت یو څه بدلون ومومي، خلکو ته پە مشروطه بڼه اجازه ورکړل شي، چې حرکت وکړي، خو دې کې شک نشته، چې د ویروس کنترول او له منځه وړل یا له خطرناک پړاو څخه عادي هغه ته راګرځول ډیر وخت ته اړتیا لري، کیدای شي دوه کاله وخت ونیسي.

**د نوې نړۍ زیږون !**

هغه نړۍ، چې موږ پیژندە هغه اوس له منځه ولاړه، ډیر ژر به نوې نړۍ وزیږیږي، نړیوالتوب اوس له ځپونکي ګواښ سره مخ دی، سرحدونه تړل شوي او نړیوالتوب ختمیږي.

نړیوالتوب په پیل کې اقتصادي و، بیا ټیکنالوژیک او کلتوري شو، نن ورځ له انسان راوروسته اقتصاد د کورونا ویروس ستر قرباني دی، انسان مري او ځوریږي، سره له دې، چې د مړینې کچه دومره لوړه هم نه ده، خو له مرګه ډار اوس دانسانانو ستره ستونزه ده.

اوس ستر ګواښ اقتصادي دی، انسان نن ورځ ښساري اقتصادي سقوط ګوري، نړیوال اقتصاد په تیرو څو کلونو کې له ترینګلي حالت راوتی و، موږ د نوي نړیوال اقتصادي کړکیچ اټکل کړی و، چې رامنځته کیږي به، خو هیچا دا اټکل نه و کړی، چې دومره ژر او هغه هم د ویروس له لارې. نن ورځ د نړیوالو بازارونو ونډې هغې درجې ته رسیدلې دي، چې یوازې

په تاریخي کړکیچونو کې به یې ساری لیدل کېده، اوس بازارونو د ۱۹۲۹ او ۲۰۰۸ ز  په څېر زیان لیدلی دی.

ډیری اقتصادپوهان په دې باور دي اوس، چې څه روان دي دا له هغه ډېر بد دي، چې پخوا پېښ شوي وو. لامل یې دادی، چې نړیوال اقتصاد اوس د بل هر وخت په پرتله پر نړیوالتوب او د مرکب اتصال پر حالت ډډه لګولې ده، اوس ټول یو له بل اغیزمنیږي، له کومې ورځې، چې دا کړکیچ په چین کې رامنځته شوی دی د نړۍ په نورو برخو کې بازارونه ترې اغیزمن شوي دي.

د تیلو بازار هغه مهال مخ پر ځوړه او کاواکه شو، چې چینیانو خپلې فابریکې وتړلې او تیلو ته نوره اړتیا نه وه، وروسته بیا ولیدل شول، چې تیل د هرې ورځې په تیریدو خپل نرخ له لاسه ورکوي، په تیرو کلونو کې د تیلو نرخونه تر ۲۸ ډالرو راښکته شوي وو، اوس د کورونا ویروس له کبله ۲۰ ډالرو ته راښکته شوي دي.

**لومړنی تاواني ... وروستی ګټیالی .... د اقتصاد بیا غوړیدل !**

چین په ټوله مانا سخت زیان ولیده، خو له نورې نړۍ به لومړی  ژر روغ او اقتصاد به یې بیا وغوړیږي، دنورې نړۍ په پرتله به د چین د ودې کچه ډېره ښه وي، داروپا او متحده ایالاتو په پرتله د چین اقتصادي ځواک ډېر دی او لاملونه یې هم دوه دي:

لومړی: په چین کې حکومت د یوه ګوند دی، مرکزي حکومت دی په ټوله مانا د خلکو پر ژوند او برخلیک واکمن دی، اروپایي هېوادونه بیا داسې نه دي هلته د ژوند بڼه  له چین سره توپیر لري.

دویم : د چین سوداګري او صنعت، چې اوسمهال زیانمن شوی دی،  نړۍ ورته اړتیا لري، اوس چینایي فابریکې بېرته  فعالې شوې دي، نږدې ٪۹۰ فابریکو تولیدات پیل کړي دي.

په راتلونکو ورځو کې به چینایي اقتصاد دوه کاره وکړي، لومړی به ګردې نړۍ ته هغه څه صادروي، چې اړتیا ورته لري او دا به د پخوا په پرتله زښت زیات وي لکه طبي وسایل لکه ماسکونه، تنفسي وسایل او نور ... نړۍ به پر چینایي فابریکو یرغل وکړي او د اړتیا وړ توکي به ورڅخه رانیسي.

چین به دا مهال دوه موخې تر لاسه کړې وي ، لومړی: اقتصاد به یې وغوړېږي او د نړۍ په کچه به خپل ستراتیژیک مقام بېرته تر لاسه کړي او د هغو دولتونو په کتار کې به ودرېږي، چې وده کوي، که چیرې وده ونه وکړي اقتصاد به یې کاواکه شي او دا یې سیاسي نظام له ګواښ سره مخ کوي، د همدې لپاره به چین ډېر ژر له اقتصادي اړخه وغوړېږي.

دویم : چین به هڅه وکړي، چې یو شمېر هېوادونه راخپل کړي او له ویروس سره د مقابلې لپاره یې له تجربو او وړتیاوو ګټه واخلي. چین اوس مخ پر رغیدو دی، دا ډېر مهم خبر دی، خو پردې نه پوهیږو، چې کله به په بشپړه توګه تولیدات پیلوي او څرنګه به یې دا تولیدات نورې نړۍ ته رسوي؟

**اروپا ... اقتصادي کړکیچ ... نژاد پالنه**

ټولو ته څرګنده ده، چې اروپا له سخت کړکیچ سره مخ ده. موږ پوهیږو، چې اروپا له اقتصادي ستونزو سره لاس وګریوان ده، تر اوسه د ۲۰۰۸ ز  مالي کړکیچ اغیز نه دی ورک شوی، اقتصادیې نه دی غوړیدلی.

یونان، ایسلینډ، ایټالیه، پرتګال او هسپانیه بیا له ستونزو سره مخ دي په ځانګړې توګه ایټالیه، هسپانیه او فرانسه، چې هر څه یې تړلي دي. د اروپا سویل د شمال په پرتله  ډېر زیانمن دی، دبېلګې په توګه د سویلي اروپا د نورو هېوادونو په پرتله جرمنی پر وضعیت ډېر

واکمن دی ، همدا راز د شمالي اروپا پاتې هېوادونه د خپل پیاوړي اقتصاد ،ټولنیز سیستم او د ټولنیز پانګواګي سیستم له کبله یو څه واکمن دي.

هغه بیوزلي، چې موږ د تېرو کلونو په پیل کې لیدلې وه اوس به نوره هم زیاته شي. کېدای شي د یورو په سیمه کې د نظام په ړنګیدو تمامه شي، په اروپا کې به د نژادپالنې نوې څپه رامنځته کړي، څکه له ۲۰۰۸ ز راهیسې په اروپا کې د کډوالو له کړکیچ راوروسته نژاد پالنه زیاته شوې ده. سختدریځه ښي اړخه ګوندونه د ودې په حال کې دي او په ځینو هېوادونو کې یې حکومتونه نیولي دي، نن ورځ موږ ګورو، چې دویروس پر مهال او له دې وروسته د نژادپالنې څپه رامنځته شوې ده، د سرحدونو تړل له اقتصادي رکود سره تړاو لري، ټول خلک به لومړی د ځان په اړه فکر کوي بیا دنورو په اړه، اروپايي خواخوږي اوس له منځه تللې ده او پر ځای یې نژادپالنه مخ پر زیاتیدو ده. اوس به دا غړونه اورو، چې ایټالیه لومړی، هسپانیه لومړی او یونان لومړی ... دا ډول اوازونه او چیغې به د اروپايي تړاو پر حساب وي.

له اقتصادي زیان وروسته د روان کړکیچ دویم اغېز د نړۍ په مختلفو برخو په ځانګړې توګه په اروپا کې د نژادپالنې څپه ده، چې راپورته شوې ده، دا پر موږ د مسلمانانو په توګه هم اغیز لري څکه اسلامي نړۍ له اروپا سره اړیکې ، راشه درشه لري، هلته مسلمانان د لږه کیو/ اقلیتونو په توګه ژوند کوي.

## نوې برخلیک ټاکونکې پوښتنې!

نړۍ به ډېر ژر د ژوند په اړه د نوو مانااو پوښتنو لړۍ راپیل کړي، په دې مانا، چې دین، عقیده او فلسفه به ډېر ژر د انسانیت او ژوند د مانا او تعریف په اړه خبرې او بحثونه پیل کړي.

اوس خلک پوښتي، چې له ديني او انساني اړخه به له  دې ستونزې سره څه ډول ژوند کوو. په ټولو سترو ستونزو او کړکيچونو کې  دوو بهيرونو انسانيت په خپل ګروت/ کنترول کې نيولی دی، يو يې انساني بهير دی او بل يې مادي. انساني بهير  هر انسان ته په مساوي سترګه کتلي دي يو انسان له بل هغه سره په ټوله مانا برابر حقوق لري او مادي بهير بيا وايي: پياوړی او ځواکمن يوازې د ژوند حق لري او کمزوری که مړ شي دا نو د طبيعت منطق دی، د( وړ بايد پاتې شي) دا د داروين منطق دی، چې مطلق مادي هغه دی.

دا انسانيت ته د هټلر او سټالين له دريځه کتل دي، کمزوری به وژل کېده، نن ورځ هم په شمالي کوريا کې په روغتونونو کې کمزوري وژل کېدل، چې دولت يې د درملنې له  باره خلاص شي.

ايټاليه، چې په اروپا کې يې د پرمختګ Renaissance پېر  راپيل کړی و، د SIAARTI مرکز يو سند خپور کړی ، چې ډاکترانو ته يې سپارښتنې کړې وې، هر هغه ناروغ، چې عمر يې له ٦٥ کلونو ډېر وي، پر کورونا ويروس نه وي اخته، خو بله سخته ناروغي ولري  بايد روغتون ته له ننوتلو منعه شي( پرېږدې، چې مړ شي). لامل يې دا ښودلی دی، چې د تنفس وسايل ډېر کم دي، دا سپارښتنې ددې لپاره شوې دي، چې روغتيايي کدرونه له هغو اخلاقي ستونزو خلاص کړي، چې د ناروغانود درملنې پر مهال ورسره مخ کيږي.

د بېلګې په توګه که ١٠٠ ناروغان راغلل او له طبي کدر سره ايله ٢٠ د تنفس وسايل وو، لومړيتوب به چا ته ورکوي؟ ايا هغه ځوان به ټاکي، چې د روغتيا هيله يې شته، چې روغ به شي او په ټولنه کې به د فعال وګړي په توګه ژوند کوي او که هغه بوډا، چې د رغيدو تمه يې نشته؟ داانساني ستونزه په ټولو وباوو کې وه، د هغې وباء په اړه، چې اروپا يې ځپلې وه تاريخپوهان ليکي:  کله به، چې چارواکي خبر شول، چې پلانی ناروغه دی، سپارښتنه به يې

وکړه، چې کور یې وتړئ، د یاد ناروغ د کور دروازه به یې د ختو او تیږو پر وسیله بنده کړه او ناروغ به په خپل کور کې بند شو، چې هملته مړ شي او ناروغي یې نورو ته انتقال نه شي.

نو دا کلتور، چې یوازې ځواکمن د ژوند حق لري او کمزوری ناروغ باید ومري مطلق مادي کلتور دی، چې په منځنیو پیړیو کې په اروپا کې و، اوس یې ګورو، چې په ځینو هېوادونو کې بیا خپور شوی دی. دا له اخلاقي او اسلامي کلتور سره ټکر لري، اخلاق او اسلام حکم کوي، چې د سپین ږیرو او کمزورو لاسنیوی باید وشي، مرسته ورسره وشي.

له موروپلار سره مرسته پر الله پاک له ایمان سره تړلې ده، دا نو له مادي منطق څخه ډېره لرې خبره ده، اوس به د نړۍ په مختلفو برخو کې انساني او مادي مکتب سر راپورته کړي او د دوی ترمنځ به ټکر رامنځته کیږي.

( مړي مو راوباسئ) دا هغه انځور دی، چې په ۱٦٦۴ ز کې په لندن کې د تورې وباء پر مهال کښل شوی دی، انځور کې هغه ګاډۍ ښکاري، چې مړي به یې لیږدول، پر وباء د اخته کسانو پرکورونو به دسور صلیب نښه انځور شوې وه او دا لیکل به پرې شوي وو( الله دې پر موږ رحم وکړي).

په رسمي سند کې د وباء له خپریدو سره باید څه وشي سپارښتنې وې، چې یوه یې دا وه، ناروغ باید تر مرګ پورې په خپل کور کې پاتې شي.

**د دیني خطاب نوښت ته اړتیا ده!**

د دین دودیز او میراثی مفهوم او رول به کمزوری شي، دینونه په ځانګړې توګه عیسویت، یهودیت ان په دودیزه بڼه اسلام نه شي کولای هغو پوښتنو ته ځواب ووایي ،چې په راتلونکي پړاو کې به ورسره خلک مخامخ شي. د خلکو اړتیا به هغه دیني خطاب ته ډېره شي،

چې عقل ته نږدې وي او دا وړتیا ولري ،چې له واقعیت سره تعامل او چلند وکړای شي او هغه بدلون هضم کړي ،چې په راتلونکو کلونو کې به ټول بشریت گواښي.

اوس دېته اړتیا ده، چې دیني خطاب انسان له اوسنۍ کچې ډېر لوړ کړي، مسلمانان به دېته د یو فرصت په توگه وگوري، چې دودیز او میراثي خطاب او وینا، چې د تاریخ او فرهنگ په کتابونو کې یې گوري یو نړیوال انساني خطاب او وینا ته لوړ کړي، چې پر ارزښتونو او د نوي عصر له روان سره جوړ وي. وبه کولای شي، چې نوې تمدني بېلگه وړاندې کړي.

**د حرص تمدن د گړنگ پر غاړه !**

څلورم ټکی، چې نړیوال انساني واقعیت به بدل کاندي هغه د نړیوالې اقتصادي بېلگې لټول دي، چې له ثبات او عدالت څخه برخمنه وي.

نننۍ اقتصادي بېلگې، چې موږ یې گورو، زموږ حرص دومره زیات کړی او هغې درجې ته یې رسولی دی، چې پخوا یې ساری نه و او له داسې کړکیچ سره یې مخ کړي یو، چې پخوا یې مثال نه دی لیدل شوی. له ۱۹۲۹ څخه تر ننه موږ په بحراني وضعیت کې ژوند کوو، خو حرص او تمه مو هره ورځ زیاتیږي. ٪۱ انسانان دومره شتمني لري، چې د ٪۳.۸ بلیونو انسانانو له هغې سره برابره ده.

دا وضعیت د تداوم وړ نه دی، څرنگه کولای شو، چې د نوي نړیوال اقتصاد لپاره نوي فکرونه راوپنځوو؟ دا نړیوال انساني بحث دی، چې په راتلونکو ورځو کې به لا گرم شي او هڅه به کوي ،چې دې پوښتنې ته ځواب پیدا کړي.

په تېرو ورځو کې داسې مقالې ولیکل شوې، چې ټولو د هر انسان لپاره د اساسي عاید فکر minimum basic income وړاندې کاوه، هر انسان باید دومره څه تر لاسه کړي، چې له

درناوي ډک ژوندولري، دا فکر ډېر ښخوا رامنځته شوی دی، خو پر دې بريالی نه شو ،چې د نړۍ په کچه خپور شي، خو اوس يې په اړه خلک  خبرې کوې.

په دې اړه هم خبرې کيږي، چې د بډايه او بيوزله ترمنځ بايد فاصله کمه شي، دا به په راتلونکې کې داسې فکرونه راوپنځوي، چې د ازاد بازار، د وال سټريټ ، اقتصادي نړيوالتوب له حرص سره په ټکر کې وي، ننی اقتصاد وحشي دی، د غميزې تر بريده رسيدلی دی. هره ورځ څو ټنه خواړه غورځول کيږي، خو له بلې خوا په ميلونو انسانان د خوړو لپاره څه نه لري.

راځئ فکر وکړو، په متحده ايالاتوکې، چې د نړۍ تر ټولو بډايه هېواد دی، د ښوونځيو شل مليونه شاګردان کورونو ته نه شي تللی ځکه دوی په هغو خوړو ژوند کوي، چې د ښوونځيو لخوا ورکول کيږي، ښوونځي ته د خوړو لپاره ځي. دا په نړۍ کې د پرمختللي هېواد حال دی، چې هر کال  ټريليون ډالر د وسلو پر جوړولو لګوي.

نن ورځ انسانان د ليونتوب درجې ته رسيدلي دي، بې حسابه پيسې د اتومي توغنديو پر جوړولو، د فضاء جګړې، ان پر هغو څيزونو، چې اټکلي، ناخيالي او ناشوني دي لګوي، د ليونتوب تر کچې د جګړو پر وسايلو لګښت کوي او دا يې له ياده وتې ده، چې يو څه پيسې کولای شي انسانان له وباء وژغوري، موږ ښخوا داسې انګيرله، چې يوازې زموږ نيکونه پر وباء اخته کېدل دا د مادي انسان ناکامي ده، اوس خو د انسان د کړنو له کبله په وچه او لمده کې فساد راڅرګند شوی دی.

## په خلقت او نړۍ کې لاسوهنه

الله پاک ځينې لارې  او اصول ټاکلي دي، چې طبيعي انډول وساتي، که انسان دا لارې او اصول مراعات نه کړي او ګډوډ يې کړي اغيز به يې ويجاړوونکی وي.

هر کله، چې د انسان له انسان او طبیعت سره اړیکه خرابه شي نو لوړه او ډار رامنځته کیږي، په دې عصر کې، چې موږ ژوند پکې کوو، د مادي وحشت او ډېر حرص له کبله د انسان له انسان سره اړیکه خرابه شوې ده، یوسړی به سل ملیارده ډالره پانګه لري په مقابل کې به ولسونه له ډېران خپل خواړه راپیدا کوي. دا حالت معقول نه دی او نه د پایښت وړتیا لري.

بشریت اوس د طبعیت په برخه کې سرکښۍ ته مخه کړې ده د استرالیا او امازون د ځنګلونو اورلګیدنه یې ښه بېلګه ده، لیکوال وایي: د ځمکې سږي خراب شوي دي، دا ځنګلونه د انسان سربېره د نورو ژوندیو حیواناتو لپاره اکسیجن تولیدوي، د اقلیم دبدلون climate change له کبله یې اور اخستی دی، دا د انسان دحرص بله بېلګه ده.

کله، چې مې ولوستل کورونا ویروس دانسانانو سږو ته رسیږي، له ځان سره مې وویل: سبحان الله ! موږ دخپل حرص او تمې له کبله د ځمکې سږي ویجاړ کړل اوس د سزا په توګه زموږ سږي خرابیږي. زما د باور له مخې د انسان او طبیعت ترمنځ تړاو شته. څه، چې پر طبیعت تر سره کیږي زیان یې انسان ته رسیږي ځکه همداانسان طبیعي مخلوق دی، دا ژوندی موجود دی، چې په طبیعت کې ژوند کوي. اکسیجن، چې خراب شي هوا او اقلیم، چې بدل شي همدا ضرر او زیان بېرته موږ ( انسان) ته د وباء، ناروغیو، لوږې، بیوزلۍ، سیلابونو، توپان او اورلګیدنې پر بڼه راګرځي.

الله پاک، چې په وچه او لمده کې د فساد په اړه وایي انسان ته یې ضرر او سزا رسیږي، دا د الهي سزا په توګه نه، چې له اسمانه را نازله شوې وي، بلکې دالله پاک په مخلوق او موجوداتو کې د لاسوهنې او ګډوډۍ له کبله ضرر او سزا ته، چې ټول انسانیت یې ګوري. ځکه خو الهي سپارښتنو ته ژمنتیا د عزتمند ژوند لپاره شرط او اړتیا ده، اوناکامي یې بیا یو یا دوو کسو ته سزا نه،د ځمکې پر سر ټولو مخلوقاتو ته وي.

نن ورځ د انسان د کړنو له کبله ځمکه ناروغه ده، دا ناروغي بیا انسان، حیوان او ټولو مخلوقات ته لیږدول کیږي، په دې پیړۍ کې  دانساني مخلوق په توګه  باید پردې اعتراف وکړو، چې موږ د انسان په تاریخ کې تر ټولو بد مخلوق یو، موږ دالله په مخلوقاتو کې لاسوهنه کوو، طبیعي توازن مو له منځه وړی دی، د انسان  د بې پایه حرص او تمې له کبله په لسګونو زره ډوله حیواني او نباتي موجودات له منځه تللي دي، زیان یې موږ ته راګرځي، ځه، چې په طبیعت کې پېښیږي هغه په انسانیت کې هم کیږي.

## جیو سیاسي بدلون

دکورونا ویروس ستراتیژیکې پایلې ډیرې پیچلې دي، موږ یې په اړه پریکنده حکم نه شو کولای اویا له ویروس وروسته نړۍ په اړه وړاندوینه وکړو،چې حتمي به داسې کیږي، خو ځینې نښې یې په ګوته کولای شو.
چین اوس بېرته رغیږي - په دې اړه لا وروستۍ خبره هم سخته ده- که چیرې دا فرض کړو، چې چین له دې وباء روغ راووت ، امریکا، اروپا او نور هېوادونه  اوس هم له دې ویروس ځوریږي او دا ناروغي پکې اوج ته رسیدلې ده، مانا یې داده، چې  چین به د اقتصادي او ستراتیژیک وضعیت له اړخه د نړۍ له نورو هېوادونو په غوره حالت کې وي.

که چیرې اوسنی اقتصادي  وضعیت همداسې مخ پر ځوړه و او خبره تر نړیوال رکود ورسیده، ډیر هېوادونه به دومره زیانمن شي، چې جبران به یې ناشونی وي، اقتصادي سیستم به له منځه ولاړ شي، صنعتي هېوادونه به، چې اقتصاد یې پر صادراتو ولاړ دی او هغه، چې تیل تولیدوي، له سختو ستونزو سره مخ شي. له بل پلوه، د لیونغرت ولسمشر په شتون کې د امریکا وضعیت هم دومره نه دی، چې سړی پرې زړه وتړي، د امریکا انځور به ژر تت شي ځکه د کورونا د مهارولو لپاره امریکا چمتو نه ده، د امریکا روغتیایي سیستم به ګډوډ شي

،چې دا خپله يوه ستونزه ده، کېدای شي دا سيستم د صحي بيمي له کبله، چې دومره ښه نه ده، ړنګ شي.

د امريکا ډېری استوګن د درملنې لګښت نه لري کېدای شي دا هم يوه انديښنه ده، چې کورونا ويروس به ژر د خلکو ترمنځ خپور شي او روغتونونه به يې د دومره ناروغانو د درملنې لپاره امکانات او ځای نه لري، دا بيا اقتصادي رکود ته لار هواروي، امريکا نن مرګونې هڅه کوي، چې پردې کړکيچ برلاسې شي، په تاريخ کې له داسې سخت روغتيايي واقعيت سره نه وه مخ شوې.

له څو کلونو راهسې د امريکا نړيوال مقام پيکه شوی، هغه پخوانی برم نه دی ورپاتې، کورونا به دا پروسه نوره تيزه کړي نور نړيوال قطبونه، چې چين يې په سر کې دی وار له مخه د نړۍ دمشرتابه لپاره رامخته شوي دي.

داسې ښکاري، چې نړۍ دې اقتصادي کابوس راويښه کړه، نړيوال اقتصادي توکي ټول په دې کې پاتې راغلل، چې له دې کړکيچ سره مقابله وکړي، ځکه ستونزه د پخوا په پرتله ډېره ستره ده. ټرمپ هم په خپلې وينا کې وويل: بازارونه به ورغيږي او خپل طبيعي وضعيت ته به وګرځي، خو خلک او بيا په تېره بيوزله ډېر زيانمن شوي دي، ډېرو يې دندې له لاسه ورکړې دي يا لږ مزدتر لاسه کوي، دا د غميزې پيل دی.

له کورونا وروسته به خلک پوه شي، چې ډېره پانګه يې له لاسه ورکړې ده، ډېری خلک به د پېر وپلور وس نه لري، نړيوال اقتصاد به ديوالي شوې وي، دا ټول ټولنيز او سياسي اغېز لري، دا سمه ده، چې متحده ايالات اوس له ستونزې سره لاس وګريوان دي، څه وخت به بېرته عادي حالت ته راګرځي، هېڅوک نه پوهيږي، زموږ د اټکل له مخې اروپا به له اقتصادي اړخه ډېره وځپل شي.

د منځني ختیځ او افریقا د اقتصاد په اړه ځکه څه نه وایو، چې دا وار له مخه په بد وضعیت کې دی، پرمختللي هېوادونه به ډېر تاوان وکړي ځکه اقتصاد یې ستر دی.